# څلورم ټولګی

## د انګليسي ژبې هنر/سواد

په لاندې ډول برجسته سرلیکونه د *انګليسي ژبې د هنر/سواد د معیارونو* د پراخې ساحې نچوړ وړاندې کوي چې په څلورم ټولګي کې لوستل شوي دي.

### لوستل

زده کوونکي خپله هغه وړتیا ښیي تر څو

- د ادبي او معلوماتي متن څخه شواهد درک او راوباسئ
- په متن بشپړ ځان پوه کړئ کله چې واضح توضیحاتو او مثالونو ته اشاره کوي
- د متن څخه په استفادې د کلمو او عبارتونو معاني وټاکي
- له متن څخه خپل استنباط تشریح کړئ

### لیکل

زده کوونکي خپله هغه وړتیا ښیي تر څو

- له څو سرچینو څخه د شواهدو د ترلاسه کولو په ګډون په اغیزناک ډول د نظریاتو پرمختګ وړاندې کړي
- له استدلال، جزئیاتو، د متن پر بنسټ شواهدو یا تشریح څخه کار واخلئ
- موضوعات او نظریات تنظیم کړئ او سریزه او پایله پکې شامل کړئ
- په روښانه ډول د نظریاتو د څرګندولو لپاره نښلوونکي، توصیفي او زماني کلمې اضافه کړئ

### خبرې کول او اوریدل

زده کوونکي خپله هغه وړتیا ښیي تر څو

- له هغو اصولو څخه په پیروئ چې هوکړه پرې شوي ده، په اغیزناک ډول له بیلابیلو شریکانو سره همکاري وکړي
- د اړینو مطالبو په لوستلو او مطالعې سره د بحثونو لپاره چمتو شوي وي
- د بحث لاندې نظریاتو د سپړلو لپاره معلومات راټول کړئ
- د نورو د نظریاتو پر بنسټ او په روښانه ډول د خپلو نظریاتو څرګندلو لپاره

### ژبه

زده کوونکي خپله هغه وړتیا ښیي تر څو

- له ایډیټ شوی لیکنې سره سم د ټولګي په کچه د معیاري انګلیسي د کنوانسیون څخه کار واخلي
- د ځواب په اوړدو کې د معنی روښانتیا وساتي

# د څلورم ټولګي ریاضیات

په لاندې ډول برجسته سرلیکونه د *ریاضیاتو د مطالبو د معیارونو* د پراخې ساحې نچوړ وړاندې کوي چې په څلورم ټولګي کې لوستل شوي دي. د ریاضیاتو د مطالبو زده کول د ټولو ټولګیو په سطحه د *ریاضي د تمرینونو په معیارونو* کې ځای پر ځای شوي دي، چې د مسئلې په حل، د مفهوم په درک، د ریاضیاتو څخه په استفادې د نړۍ ماډل جوړول او ریاضیاتو په استدلال کې د ارتباط اړوند د زده کوونکي مهارتونه تقویه کوي.

### عملیي او الجبري فکر کول

زده کوونکي به

- د مسائلې د حل لپاره د څلور عملیو په واسطه له ټولو عددونو سره کار واخلي

- له فکټورونو او ضریبونو سره به آشنایي پیدا کړي
- شکلونه به جوړ او تحلیل کړي

## په لسم ټولګي کې شمېرې او عملیې

زده کوونکي به

- د څو عددي بشپړ شمیرو لپاره د ځای ارزښت پوهه عمومي کړئ
- د څو رقمي محاسباتو د ترسره کولو لپاره د ځای د ارزښت له درک او د عملیو د ځانګړنو څخه استفاده وکړئ

## عددونه او عملیې - کسري

زده کوونکي به

- د کسري تعادل او ترتیب په اړه خپل درک لوړ کړي
- په صحیحو عددونو باندې د عملیو د ترسره او له وړاندې پوهیدلو سره له واحد کسرونو څخه د کسرونو جوړول
- د کسر لپاره د اشاریي په نښه پوه شئ او عشاري کسر مقایسه کړئ

## د اندازه کولو واحدونه او معلومات

زده کوونکي به

- به هغه مسئلې حل کړي چې په هغې کې د اندازه کولو واحدونه او لوی واحد په کوچني واحد باندې بدلول شامل وي
- معلومات به بیا وړاندې او تفسیر کړي
- د زاویو په مفهوم او اندازه کولو باندې به پوه شي

## هندسه

زده کوونکي به

- کرښې او زاویې به رسم او وپېژني او د کرښو او زاویو د خصوصیاتو پر بنسټ به یې ډلبندي کړي

# د څلورم ټولګي ساینس

په لاندې ډول برجسته سرلیکونه د درې رشتو نچوړ وړاندې کوي، *په څلورم ټولګي کې* د ساینسي مطالبو معیارونه او په ټولنه‌کې د *ترویج په موخه* اړیني علمي لارې چارې دي. په علم کې د بریالیتوب لپاره په حیاتي مهارتونو کې **مشاهده، د معلوماتو را غونډول، شننه او د شواهدو تفسیر کول شامل دي.**

## ژوند

زده کوونکي خپله هغه وړتیا ښیي تر څو

- د بیلابیلو موجوداتو ترمنځ ورته والي او توپیرونه تشریح کړي
- د فوسیلونو او ژوندیو موجوداتو ترمنځ ورته والي تشخیص کړي
- استنباط کړي چې فوسیلونه موږ ته د تاریخ وړاندې چاپیریالونو په اړه څه وایي
- و ارزوئ چې آیا د فوسیلونو او د تاریخ وړاندې چاپیریالونو په اړه له ترلاسه شویو پایلو څخه د شواهدو په واسطه ملاتړ کیږي او که نه
- د پخوانیو چاپیریالونو د بیا جوړولو لپاره له ماډل څخه کار واخلي

## فزیکي

زده کوونکي خپله هغه وړتیا ښیي تر څو

- د انرژی بیلابیلې سرچینې تشخیص او تشریح کړي
- په سرکیټ کې د انرژی لیږد او بدلون تشریح کړي

## ځمکه

زده کوونکي خپله هغه وړتیا ښیي تر څو

- له دې استدلال څخه ملاتړ وکړي چې د لمر/ستورو ظاهري روښنایي له ځمکې سره د هغوی د نسبي فاصلې له امله ده
- د شمسي منظومې د عناصرو ترمنځ د اړیکو اړوند علمي توضیحات رامنځته کړي

- د لمر د ختلو او لویدلو، د سپوږمۍ د حرکتونو او مرحلو پر مهال شکلونه ومومي

### علمي تجربې

زده کوونکي خپله هغه وړتیا ښیي تر څو

- تر څو علمي تفکر په شفاهي او لیکلي بڼه د کلمو او بصري ډیزاینونو (ګراف، ډیاګرام، انځورونه) په واسطه سره ونښلوي
- د لا زیات پوهیدو لپاره پوښتنې وکړي او تشخیص کړي چې کومې پوښتنې د آزمینت وړ دي
- علمي پلټنې پلان او ترسره کړي

## د څلورم ټولګي اجتماعیات

په لاندې ډول برجسته سرلیکونه د *اجتماعیاتو د مطالبو د معیارونو* د پراخې ساحې نچوړ وړاندې کوي چې په څلورم ټولګي کې لوستل شوي دي. د څلورم ټولګي اجتماعیات موږ ته د تاریخي پرمختګ، اقتصادي او دولتي جوړښتونو او د آیالت اړوند سرچینو په ارزولو سره موږ ته د کلوراډو آیالت د تیر او اوس تاریخ په اړه معلومات را کوي.

### تاریخ

زده کوونکي خپله هغه وړتیا ښیي تر څو

- د کلوراډو د تاریخ په اړه د لومړۍ تاریخي سرچینې راپورونه تحلیل او شننه يې ترسره کړي
- د هغو خلکو او کلتورونو ترمنځ تعاملات تشریح کړي چې په کلوراډو کې يې ژوند کړئ دی
- د کلوراډو په تاریخ کې د بیلابیلو دورو تحلیل او شننه او د دوی اړیکه د متحده ایالتونو د تاریخ له بیلابیلو دورو سره

### جغرافیه

زده کوونکي خپله هغه وړتیا ښیي تر څو

- د نورو ځایونو سره په تړاو د کلوراډو د جغرافیې په اړه د بیلابیلو پوښتنو او پلټنو ترسره کړي
- پوښتنو ته د ځواب ور کولو لپاره له جغرافیايي شبکو څخه کار واخلي تر څو د نقشې په سر باندې ځایونه او نځورونه وټاکي
- تشریح کړي چې څه ډول فزیکي چاپیریال په ثبات او ودې باندې اغیز کړی دی

### اقتصاد

زده کوونکي خپله هغه وړتیا ښیي تر څو

- په کلوراډو کې چمتو شوې ځانګړې سرچینې او خدمتونه تشریح کړي
- ټاکنه او د فرصت لګښت تعریف کړي

### مدني زده کړې

زده کوونکي خپله هغه وړتیا ښیي تر څو

- د آیالت د ستونزو په اړه بیلابیل لیدلوري و آزمایي او بحث پرې وکړي
- د آیالتي حکومت د درې څانګو او د دوی ترمنځ اړیکې تشریح کړي
- تشریح کړي چې د آیالتي حکومت پریکړې څه ډول په سیمه ییز حکومت باندې اغیز کوي او له فدرال قانون سره تعامل کوي

## د څلورم ټولګي تجسمي هنرونه

په لاندې ډول برجسته سرلیکونه د *تجسمي هنرونو د مطالبو د معیارونو* د پراخې ساحې نچوړ وړاندې کوي چې په څلورم ټولګي کې لوستل شوي دي. په څلورم ټولګي کې به زده کوونکي له بیلابیلو رسنیو څخه د ډیزاین د جوړولو لپاره کار واخلي چې هغوی به یوه شخصي معنا ولیږدوي. زده کوونکي هنري موخې ټاکي او د هنري آثارو تفسیر زده کوي. زده کوونکي به د نقد د مهارتونو لوړولو ته ادامه ور کړي

### د درک کولو لپاره مشاهده او زده کړه وکړئ

زده کوونکي خپله هغه وړتیا ښیي تر څو

- په هنري آثارو کې د پرتلې ا و تقابل د عناصرو او اصولو *په واسطه خپله هنري** موخه تعیین کړي
- د بیاني هنري اثارو په کار باندې پوه شي او بیلابیل لیدلوري څرګند کړي
- هنري اثارو ته د ځواب ور کولو پر مهال، د هنرمند احساسات او لیدلوری استنباط کړي

### د انعکاس په موخه تجسم او نقد

زده کوونکي خپله هغه وړتیا ښیي تر څو

- د وړاندیزونو او سپارښتنو په وړاندې کولو سره، شخصي او د نورو هنري آثار نقد کړي
- هنري کار تفسیر کړي

### د جوړولو لپاره اختراع او کشف ترسره کړي

زده کوونکي خپله هغه وړتیا ښیي تر څو

- په هنري کار کې له نظریاتو سره د معناګانو د نښلولو په موخه له رسنیو څخه کار واخلي
- له موادو او پروسو څخه په سنتي، ځانګړې او نوښتیزو لارو کار واخلي

### د لیږد تشریح او نښلول

زده کوونکي خپله هغه وړتیا ښیي تر څو

- شخصي معناګانې رامنځته کړي او هنري موخه استنباط کړي
- د بیلابیلو تاریخي دورو او کلتورونو هنري اثار تفسیر او د هغې په اړه بحث وکړي

***د یوه هنري کار عناصر:** کرښه، شکل، وودلي والی، رنګ، ارزښت، فضا، فورم
****د ډیزان اصول:** تینګار، حرکت، بیلانس، کانټرسټ، یووالی، شکل، ریتم

## د څلورم ټولګي د بدني روزنه

په لاندې ډول برجسته سرلیکونه *د بدني روزنې د معیارونو* د پراخې ساحې نچوړ وړاندې کوي چې په څلورم ټولګي کې لوستل شوي دي. په څلورم ټولګي کې زده کوونکي د حرکتي مهارتونو او د حرکت د مفاهیمو په اهمیت باندې تمرکز کوي تر څو په فزیکي فعالیتونو او سپورت کې بریالي شي. د FITT اصول (تکرار، شدت، وخت او ډول) د بدني روزنې څلور اجزاوې ګڼل کیږي.

### په سم ډول د حرکت ترسره کول او درک کول

زده کوونکي به

- دریبل ترسره کړئ او باسکټبال او یا د فوټبال د توپ په څیر یو شی د حرکت د ترلاسه کوونکي لوري ته وار کړئ
- د معما له بیلابیلو وسایلو څخه کار واخلئ تر څو یو په حرکت کې هدف په لغته ووهئ یا وار یې کړئ
- د بدني فعالیتونو په بیلابیلو بڼو کې د حرکت حیاتي عناصرو د ارزونې او پیژندلو لپاره د ارزونې د همکارو وسایلو څخه کار واخلئ

### جسمي او شخصي روغتیا

زده کوونکي به

- یو تمرین نمایش ته وړاندې کړي چې د روغتیا اړوند فزیکي فعالیت په هر عنصر به مثبت اغیز وکړي
- زده کوونکی به تشریح کړي چې څه ډول د روغتیا اړوند د بدني روزنې څلور اجزاوې (د زړه استقامت، انعطاف منل، د عصلاتو استقامت او د عضلاتو پیاوړتیا) کولای شي په عادي توګه په ورځنیو فعالیتونو کې په ګډون باندې اغیز کوي

### د مخنیوي او خطر مدیریت

زده کوونکي به

- د بدني فعالیت اړوند د خوندیتوب د پروسیجر د مرعات کولو ګټې او نه مراعات کولو خطرونه لیست کړي

# د ځلورم ټولګي موسيقي

په لاندې ډول برجسته سرليکونه د *موسيقۍ د مطالبو د معيارونو* د پراخې ساحې نچوړ وړاندې کوي چې په ځلورم ټولګي کې لوستل شوي دي. د ځلورم ټولګي موسيقي د سندرو ويلو د تخنيکونو، ريتم، د موسيقۍ جلمه بندۍ او فريم او درک ته ځانګړې شوې دی. يادونه: په لاندې ډول ټولې لېست شوې ساحې به په دواړو سميسټرونو کې ونه ارزول شي.

## ننداره - ادا کارۍ کول

زده کوونکي به وکولای شي تر څو

- درې برخې لرونکي رونډونه ترسره کړي
- دوه اصلي آکورډونه ترسره کړي
- پنځه پيچ لرونکي ملودي وغږوي
- جوړ شوی ريتم ترسره کړي

## جوړول - کمپوز کول او له چمتووالي پرته اجرا کول

زده کوونکي به وکولای شي تر څو

- له 4-8 د ريتم د اندازې شکلونه جوړ کړي
- د پنځو پيچونو په کارولو سره له 4-8 د اندازې د ملودي شکلونه جوړ کړي

## تيوري - د موسيقۍ زده کړه

زده کوونکي به وکولای شي تر څو

- له 4-8 اندازې پورې د ريتم شکلونه له ځان سره ياداشت کړي
- د پنځو پيچونو په کارولو سره له 4-8 اندازې پورې د ملودي شکلونه له ځان سره ياداشت کړي

## ښکلا پيژندلو ته ارزښت ور کول - قدرداني کول او ارزونه

زده کوونکي به وکولای شي تر څو

- د ګډون، اجرا او نوښتيزې پروسې له لارې موسيقۍ ته ځواب ور کوي او هغه تجزيه او تحليل کوي
- په موسيقۍ کې ځانګړې لومړيتوبونه د اګاهانه قضاوت له لارې څرګند کړي